سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۵ نومبر ۲۰۰۸

زمور جگړه ځپلي او ځيرلي ټولنه څومره ناروغه ده

سريزه

جگړه په دي نوي نړيوال نظم کي دسياسي موخو لاسته راوړلو لپاره د يوي آ لي په څير استماليږي . جگړ ي او وسله وال کړکيچونه د سړي جگړي د پای څخه را ورسته زمور د ژوندانه يوه برخه گرځيدلی ده. مور اوس په يوه نوي نړيوال جگړه کي ژوند کوو. چي ورسره يو ستر بدلون هم د جگړو په بڼه کي ترسترگو کيږي. دبدلون لاملونه بايد د سړي جگړي يا د څتيز او لوديځ کړکيچ د پای څخه ورسته په پرمختللي نړيواله او نوي يا مدرني ټولنه کي ولټول شي.
له ۱۹۹۰ کال راپه دي خوا په نړۍ کي په ډيره شمير جگړي او وسله وال کړکيچونه ترسره شوي دي . په نړيواله کچه يواځي په ۲۰۰۲ کال کي له څلويښتو څخه ډير وسله وال کړکيچونه گڼل شوي دي . چي ډير يې په افريقا او اسيا کي ترسره شوي دي. دا جگړي يوه نوي بڼه د جگړو ور ښيي. په دغه جگړو کي جگړه مار يو بل ته په ډير توپيره او وحشت سره وردانگي، لکه د پوځي زده کړي، د وسلو د تجهزاتو اندول او توپير، د جگړو سياسي او ايدلوژيکي انگيزي، دهوايي پرمختللي ځواک بي رحمه بريدونه او ان تر راندو ځانمرگه بريدونه پوري يو خاص توپير ليدل کيږي که څه هم دا ډول جگړی په خوا زمانو کي هم تر سره شوي دي خو په اوسنی وخت او عصرکي دا ډول جگړي دلاملونو، انگيزو او لرليد له پلوه د ژوري اندېښنې وړگرځيدلي او ستر تاوانونه يې ولسونو ته اړولی دي. په دي کي هيڅ شک نشته چي زمور خواره ټولنه له د يرشوکالو راهيسه د جگړو په اور کي سوځي ناروغه نه وي اوورسره زمور بي وزلي، زوريدلي افغاني ټولنه په دغه موده کي غمجنه، توکيدلي، ځيرلي او ويشل شوي نه وي. جگړو زمور افغانانو څخه په لوی لاس انساني، مادي او معنوي، لرغوني، کلتوري زيرمو برسيره په ټولنه کي له پرله پسی ناورينونو، غميزو ناخواليو، روحي ناروغيو او فشارونو سره مخامخ کړي يو. زمور افغاني ټولنيي په دي ديرشو کالو کي يولړ لوي او بي ساري بدلونونه وليدل چي روغتيايي حالتي اوس د يوي ويښي کوما ټولنې ته ورته شوي دی او په ټولنه کي ټول ټولنيزه سيستم فلج شوي دی .

۱ . جگړه څه ته وايي

د جگړي څرگند او منلی تعريف نشته. ښاغلي ار. بي . فرکوسون يو پيژندل شوي د جگړو دلاملونو پلټونکي په اند، جگړه ډيره گرانه ده چي تعريفي تشرح شي . دي ليکي، هغه مهال له جگړي څخه خبره کولي شو چي کله د جگړي گډونوال د وژلو اراده ولري. په عمومي ډول پوځي کړگيچونه ته جگړه ويلی شو. هره جگړه د يرغلگروڅخه په دفاع کي سمه پيل کيږي، پرته له دي حالته څخه جگړه نشته . يو د دووارو غاړو څخه بايد يرغلگر وي، ځکه که دواړه خواوي دفاع کوی بيانو جگړه نشته .کله چي پوځي عمليات نه ترسره کيږي ، بيا نو له کړکيچ څخه خبري کولي شو.
دا يوه ريښتيا خبره ده چي جگړه ټولني ته جهنم ده. له يوی خوا جگړه د سياست دوام په بل ټوکي يا وسايلو باندي او له بلی خوا سياست د جنگ دوام دی .جگړه يوه نړيواله پديده د بشريت په تاريخ کي پيژندل شوي ده جگړه ډير لاملونه، انگيزي او مختلفی بڼي لري. د انساني تجروبو مرکزي برخه جوړوي. نړدي په ټولو ولسونو، کلتورنو، عصرونو او د نړۍ په ټولو برخو کي موندلي شو. لکه څنگه چي جگړه ډير مخونه لري، جگړه په اصل کي يو زور زياتی او ظلم دی. جگړه په ټولنه کي د ډليزو زورزياتی يو فورم دی. نړۍ له دي نه نوره هم ډيره کړکيچنه شوي ده، کوم چي مور اوس ورته گورو. زمور د راتلونکي سر باکل خلاص دی، کله چي مور د راتلونکي په اړه وړاند وينه کوو. ډير پوه خلک لکه د نړۍ اخباري ، تلويزيوني خپرونې، سياسي چارواکي، د نړۍ منلي شوي سياستپوهان او په زړگونه نور ته په دي اړه خبری کول د شرم ځای گرځيدلی دی . په حقيقت کي نه زمور نړۍ او نه زمور راتلونکي نا څرگند دی . بلکي زمور وړتيا، د کار قابليت ، لياقت او پوهه له منځه تللی چي ساده او اسانه شيان ووينو، وپيژنو او کار پر وکړو.
بشريت د جگړي پر ضد دي ، جگړه غيرانسانی ځکه ده چي په ترس کي انساني ژوند او لوي کلتوري شتمني لمنځه ځي . جگړه ځکه غيري انساني ده چي زمور ولسي ځواک له منځه وړي . نه دا چي مور سر، پښه او لاس له لاسه ورکوو.

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

۲ . تولنیز کړکېچونه

کړکېچ د انسانانو ترمنځه دومره زور دی لکه دا بشریت په خپله . کړکېچ ، شخړه او جګړه د انسان یو طبعي حالت دي. یوه باثباته ټولنه له ټولنیزه کړکېچ څخه ګټه اخلي، ځکه دوی مجبور دي چې کړکېچونو ته نورمونه او قانوني چوکاټ وټاکي چې ټولنه پرمخ ولاړه شي. دا حتمی نه ده چې کړکېچونه ټل ورانونکي تمامیږي، له همدی امله نه باید کړکېچونه منفی وارزول شي . کړکېچونه ممکن موعقتي هم وي کله چې خلک ټولنیز سازمانونو ته شکل ورکوی، وده ورکوی او په پښو درول یې غواړي کړکېچونه رامنځ ته کیږي .
یو ټولنه پرته له ټولنیزوکړکیچونو یوه مړه ټولنه ده . ټولنیز کړکېچ د مدرني ټولني یو برخه ده . د دې پلټنې موخه دا ده چې کړکېچ له پامه ونه غورزول شي او ورک یې نه کړو او د کړکېچ له څنګه تیرنشو،بلکې یوه شونی د حل لار ورته ومومو چې څنګه موږ کړکېچ د زور زیاتی څخه پرته حل کړو. ټولنیز بدلون تل له کړکېچ سره مل وي . له کړکېچونو څخه په سیستماتیک ډول ډده کول ښه چار به نه نوي . ځکه د ټولنیزو بدلونو پرووونو ته خندونه راولاړلیږي . کړکېچونه له ټولنیز بدلونونو څخه نه بیلودنکی دي او په ټولنه کې د ګډ ژوند اړینې نښاني دي . دا په ټولنه کې د دوو ډلې تر منځه چې یو بل ته اړ دي د نارضایتونو او نا آرامیو ته اشاره ده . کړکېچ د دغی دواړو ډلو د ارتیاو، لوالتاو او د ارزښتونو تصور د نه سر ته رسیدو له امله رامنځته کیږي . دا هغه مهال دی چې د دوو ډلو ترمنځه د ژوندانه چانسونه او واک نوی ویشل کیږي، طبعي ده چې کړکېچ په ټولنه کې رامنځته کیږي .
د خوښۍ ځای دی چې دا روانه جګړه د افغان ولس پرورااندی د یو توکي په ډول کارپږي . په داسي حال کې هغه کسان چې د واک پر ګودي ناست دي، د بهرنیانو سره په ګده د هیواد شتمني لوټوي . دا جګړه به هله پای ته ورسیږي چې دا ټول افغانان په دې وپوهیږي چې دافغان ولس د کړکېچ حل د پوځي لارې نه حل کیږي . د هیواد وګړي باید وپوهیږی چې دوی په خپله دغی اوږدي جګړې په نښه کړی دي . نن هره افغانه او هر افغان ، هر کور ، هر کلي، هره ولسوالي له جګړو څخه زیانمنه شوي دي . دا د خپل ځان د له منځه وړلو او د دوی نه د ژوند د اساسي حقوقو اخیستلو لپاره باید پای ته ورسیږي . جګړه زموږ د ټولنې دښمنه ده . زموږ ټولنې او افغان ولس دغمیزو، تولنیز سرتیټوالي او بعدترین ډول د واک استعمال هغه لوړه کچه ولیده چې په نړۍ کې ساري نه لیدل کیږي . په همدی وجه نوره زموږ ولس باید یوي پریکړې ته او پایلې ته ورسیږي . سره د دردونکي او ګرانی پایلې، د جګړې لاملونو، پوځي اوسیاسي کړکچونو باید وویل شي چې افغان ولس د نړیوالي ټولنې په مرسته باید په خپله د ستونزو یوه بښتیزه ټولو ته منلې د حل لار راوباسي چې له هغې سره زموږ سروکاروي . په جرعت او زغرده سره باید وویل شي ، چې موږ په خپله په هیواد کې په فعاله او غیر فعاله توګه دغو سیاسي، پوځي او د تولنیزو، اقتصادي بدلونو او ورانیو مسوول یو. موږ به ستره تیر وتنه وکړو که دا ونه منو چې دا برخلیک ټاکونکي تیروتنې موږ په خپله د لوی افغان ولس د تاریخي په لاره کې ورسره مخامخ شویو. اوس باید موږ ،، افغان ولس،، د کړکېچونو د حل لپاره ټول مسوولیت وپیژنو او وې منو. موږ باید وړاندي وړلاړ نشو. نه باید خپل ټول ناورینوو او غمیزو مسوولیت پر بهرني یرغلګرو پوځونو په غاړه ورکښیږدو . دا به له خپل ځان سره ترحم وي او خپل ځان ته به یوه د نالایقي او بې کفایتي شهادتنامه ورکړو. چې تل خپل ټول ملي کړکېچونه د نړیوالو پر اوګو وروليکو او یا زموږ د ټولو ستونزوملامتیا په نورو واچوو. موږ ډیر لږ توانیدلی یو چې خپل ځان او کړکېچونه دننه څخه وګورو. زموږ افغانانو یوه بدمرغی دا ده چې د افغانان یوه برخه تل له یرغلګروسره په واک کې یو ځای شوي ده، بله برخه مقاومت کوي او بله برخه غلي بیا ناسته وی ګوري چې څه کیږي .
افغان ولس ته باید د دغو ټولو نیمګوتیاو، نه بښونکي تیروتنو او سګروتو په څنګ کې یوه موقه په لاس کې ورشی چې د زړه نه په رښتونی او میړانه توګه په مناسب ډول عمل وکړو. هغه څه چې پاتی دي وژغورو، څه چې افغان ولس ته ډیر ګران او ارزښت لري . هغه سوله د خبرو اترو د جرګو، مرکو ملي پخولاینه او ملي پیوستون له لارې ده . افغان ولس باید له دغې لارې روغې جوړې، تلپاتې سولې ته مبارزه وکړي . سره له دې چې جګړې یزځواکونه او ډلې په دې باور لري چې جګړه یواځینې توکي دی چې سوله ترلاسه شي . د جګړو ټولې غاړې ځاني او مالي قرباني ته تیاري دي . دوی دې ته چمتو نه دي چې د خپل ګران هیواد افغانستان سولې اوثبات لپاره قرباني ورکړي . د سولې قرباني یوازې په میړانه او ریښتنوالي دخپلو غوښتنو کچه راټیټوال دي . سره له دي چې د خبرو اترو حل لار د ولس یوې برخه ته سرتیټوالي او بې ننګي معنا ورکوي . موږ مجبور یو یواځې د خپلو سیاسي موخو او غوښتنو کچه را ټیته کړو او دي ته چمتو شو چې د خبرو اترو د حل لار په صورت کې دوړه غاړې نسبي ګټه پورته کړي . اوس خبره د سیاسي موخو او پلانو دفاع نه ده ، دلته خبره د افغانستان او د ننګیالي افغان ولس ده . په دغه او سني جګړه کې هېڅ د هیواد او افغان پالنې معنا نشته . دلته له جګړو څخه ګټه بهرنیان پورته کوي او په دواړه خواو کې بې ګناه افغانان وژل کیږي ، زموږ ټولنه نوره ځپل کیږي . د کوچنیو، لنډمهالو سیاستونو وخت

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

اوس تير شوی دی، مورِ افغانان بايد د خپل هيواد راتلونکي، سولې امن لپاره د ژور فکرونه او اوږد مهاله عملي موخې باندې لاس پورې کړو .

۳ . افغان وژنه ، ولسي وژنه

زمورِ په ټولنه کې د يو افغان يا انسان وژنه څومره اسانه او بې ارزښته شوې ده . پرته له کوم جرم څخه چې په قانون کې ورته سزا ټاکلې شوې وي ، بې له دې چې وژونکي ته دا صلاحيت چا په قانوني ډول ورکړې وي . بې له کومې قضايي او عدلي مراحلو، بې له کوم ځند څخه د هغه د وژلو امر په ډير زړه بوګونکي ډول ورکول کيږي چې دا جنايات د انسان ، بشريت او د خدای د عدالت منلو وړ نه دي . په ټولنه کې نوره د ناورينونو،د بې ګناه وينو تويولو، ويړ او ماتم لړې نوره اوږده کيږي . په ټولنه کې ويره، زورزياتي،ظلم، رواني فشار د زغم څخه وتلې ده .
زمورِ ټولنه د بې باورۍ په ژور رنځ او زهرجنه فضآ کې ډوبه ده . د دولت، وسله وال پوځ او ولس ترمنځ بې باورۍ، د مذهبی ، سياسي ګوندونواو ټولنو ترمنځ بې باورۍ . دا ټول د ديرش کلنی جګړې ناوړه اغيزې دي چې پر ټولنه شيندلی شوي دي . د بلګې په توګه په عدليه وزارت کې له سلو ډيرسياسي ګوندونه راجستر شوي دي او له سلو څخه ډير د نتظار په کوته کې ثبت او راجستر ته ناست دي . يو هيواد چې پنځه ويشت مليونه وګړي لری اټکل اتيا په سلو کې نالوستي دي او همداسي پنځه سلنې وګړي بې لوړی زده کړی نه لري .ايااړينه ده چې دومر سياسی ګوندونه ولري . خلک له سياسي ګوندونو څخه سر ټکوي د افغان ولس د غميزو يو لامل يې بولي او وربانډی بې باوره شوي دي . د دغو ډلې سياسي مشران ټول هڅه کوي چې د افغان ولس کرکېچونو ته الترنتيف او د ستونزو حل لار د ګوندونو کرنلارو او تش په نامه شعارونو، نومونو باندې وموميِ . دوی غواړي د نالوستي ولس له نيم ګړتياوو څخه په ګټه اخيستلو سره په يوه محدوده کړې کې بيا واک تر لاسه کړي . ايا دوی فکر نه کوی چې دا ټولنه خو دوی هم ويشلی ده .ولي يو ګوند تر اوسه ونه شول کړی چې يوه ملي کرنلار خلکو ته وروپيژنی چې د نورو ګوندونو جوړيدلو مخه ونيسي . په خوابنيني سره زمورِ افغانی ټولنه ديرش کالنه جګړيزه ترخې تجربې لري . احتمالا ن که سبا جګړه پای ته ورسيږي . زمورِ خواره، مدني جګړه ځپلي او ځيرلي ټولنه سره د تير شويو پرله پسې غميزو او ناورينونو سره په سوله کې به څه حالت ولري . سوله او جګړه دو ي نه بيليدونکي پديدې دي چې يو په بل پسې راځي . دافغان په ټولنه کې څنګه سوله ، امن او نظم بيرته په پښو ودريږي . زما په اند د دغی جګړې روحي، رواني او فيزيکي تپونه به په ټولنه کې ډير ژور دي او ډيره موده به زمورِ ټولنه نور هم ځوروی او د روغې ټولنې په لور به خند ګرځي . په ټولنه کې د د مينې پر ځای نفرت، دنيکمرغي پر ځای بدمرغي د هوسا ژوند پر ځای بيوزلي د اوبو پرځای وينې رواني دي اوځمکه، آسمان او لمر يې په وينو ککړ دي.

۴ . د جګړو ناوړې ، رواني ،اغيزې او لړې

د جګړو نه ژوندي پاتې شوي خلک هم د جګړو قربانيان دي . مورِ ټول د جګړو قربانيان يو. په ټولنه کې ډير خلک ډير ژورجسمي، رواني او فيزيکي تپونه لري . دوی بې کوره او په يوه ورانه او وجاړه سيمه کې استوګنه لري . بې له بنسټيزو حقوقو، بې له کومې روغتيايي درملنې ، بې له پاکې څښاک اوبو،غواړو او بې د ژوند لومړنيو اسانتياو څخه په ويره کې ،د مينو نو ګوابنونو سره خدای هيلې ته ژوند کوي . زمورِ ټولنيز سيستم او ټولنه په ټوليزه ډول د زهنې، رواني ناروغيو حالت ته رسيدلې ده .
د روحي روغتيايي نړيوال سازمان په يوه څيړنه کې د جګړو پوست تراومه اغيزې داسی په داګه کړي دي . دا څيړنه يواځی د بيرنی ژور څېړګان په اړه ترسره شوې ده . دوی ٪ ۳۷ وګړي د جګړو په سيمو کې معايعنه کړی چې ٪ ۶۷ خلک په ژورخپګان اخته وه . په همدی شميره خلک دوی بيا په يوه بله ټولنه کې چې د جګړې څخه مصعوونه وه څيړلې چې ٪ ۱۰ خلک په ژور خپګان اخته وه . دا يو ډيره اندېښمنه کونکې د عقلي ناروغيو څيړنه ښودل شوې ده . په يوه بله اعصابي ناروغې څيړنه کې ښودل شوي چې په ډيره لويه کچه پرله پسې په جګړه کې اخته کيدل د مغزوزيانمنول رامنځ ته کوی . دا بيا مغزو ښه بدلوی اود سړي په ټولنيز چارو باندې بده اغيزه کوي . دا څيړنه د بوسنيا هيواد په کدوالو ترسره شوي ده . چې ډير ټولنيز خندونه، روحي اغيز يې په ټولنه کې شيندلی دي . دبيلګه په توګه ٪ ۲۵ خلک نشول کولې نورمال کارانونه او ورځنې چاري سرته ورسوي، خپلی کورنې ته ډودي را وګټي او په نور توليدي چارو کې دنده نشوه تر سره کولې .
يوه بله هالندي څيړنه د نازي المان د جګړې قربانيان په پنځوسو کالو نو کې څيړي، چې يواځينې اوږد مهاله څيړنه ده . دا څيړنه ښيي چې د جګړې قربانيان په دې ورستيو پنځوسو کالونو کې په يوه جګه کچه د ژورخپګان ناروغی

افغان جرمن آنلاین شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

باندي اخته دي . په همدي ډول يوه بله اوږد مهاله ځيرنه د بوسنيا هيواد پر کدوالو ترسره کيږي ، همدا اوس ښودل کيږي چې نړدی د يوې جګړې ځپلې ټولنې هر غړي د جګړې په تراومه يوه اندازه اخته دی . سره له دې چې جګړه پای ته رسيدلې ده . دوی ناهيلي، مايوسه، بې تمه او نا باوره ورځني ژوند مخ ته بيايي . دوی د يوې ټولنې بنسټ جوړوي او مکمل يو نسل ټولنې ته وړاندي کيږي چې د دوی نه ورسته راتلونکي نسل به هم ناسالم منځ ته راشي . روسي او امريکايي يرغلګر عسکرو په روحي نارغيو يعني د ويتنام ، خليج او افغانستان سندروم په نامه اخته دي . د دوی درملنه په ډيرو پرمحتلليو ميتودنو باندي تر سره کيږي . زمور جګړه ځپلي ،ځيرلي د دريمی نړۍ خواره ټولنه به نور هم عقلي او اعصبی ناروغيو ژور ټپونه له ځانه سره ولري .

۵ . جګړه او جنسی تيري

د جګړې په ډګر کې د قانون تشه موجود وي او په جګړه کې وحشت حاکم وي . چې هلته هيڅ ډول ممانعت نشته او هر ډول زړه بوګوونکي اعمال، جنسي تيري ترسره کيداي شي . جنسی تيري
يوه ټولنيزه نه بيولوژيکی انفرادي پديده ده . جنسي تيري ديو سړی جرم نه بلکه په يوې ټولنيز چوکاټ کې دغه جرم ترسره کيږي . دا ټولنه ده چې دغه جرم ته يې لاره خلاصه کړي ده . د ا جنايتونه د هيواد په شمال کې په ډليز ډول څو څو واري ترسره شوي دي . د هيواد په لوديځ کې د ښځو ځان
سوځونه چې په لږ کې بيا په ځان وژنه او يا دايمی معيوبيت او معلوليت باندي تمامږي ، دا حالت يوې اندېښمنه کونکي کچې ته رسيدلي . اټکل هره ورځ د انسان ټښتونه او دانسان قاچاقو خبر اوريدل کيږي . زمور په هيواد کې خلک د برمته شوي ماشوم د غوښو د خولږلو په تور بالفعله نيول کيږي . ځنې هيواد والو خپګان ځرګند کړ چې ماشوم يې د ښځې له منګولو ژوندی خلاص نه کړولو، نورو بيا ويل ، خپل هيواد کې ويره لری چې زمور هيواد د وحشت او روحي ناروغي کومې کچه ته رسيدلی دی . که سړی جسماً ټپی شي هغه به يو داکټر ته ولاړ شي . خو که سړي روحي ټپی وي او يا روحي زوريږي بيا نو دا سړي پټيږي . اکثره د جګړې پاتي شويو قربانيان له ډاره د جګړې نا وړه زړه بوګنوونکي ترخي تجروبې پټوي او له ويلو ځخه يې ډده کوي . ځکه دوی فکر کوي چې ځوک به د دوی پر ډار وخندی او هيڅ احساس او ترحم به ورسره ونه لري او يا مجرم ته هغه سزا چې قانون ټاکلي ده ورنه کړل شي ، ځکه په ټولنه کې د سزا نه د مجرمينو د معافيت کلتور لا بر لاسي دی . زمور په ټولنه کې شرم پر ټولو غميزو بر دي . زمور په ټولنه کې ډير ماشومان په مستقيمه او يا غير مستقيمه توګه د جګړې تراومه ځخه به له روحي مسلکي درملنې ځخه زوريږي . جګړې پر سرتيرو او ملکی وګړو باندي ډيري ژوري اغيزي پريږدي چې د جګړې پای ځخه ورسته لاهم داوم کوي. لکه کم خوبي، له نړديولی ځخه ويره، د خيالي تعقيب کيدلو ځخه دار، د ارزښتونو ارزښت او اخلاقي نورمونه له منځه تلل، قهر او غوصه زورزياتي، کورني تاوتريخوالي او داسي نور علايم راڅرګنديږي .
المانې ژبې ارواه پوهه زيکموندفرويد ليکي جګړه د نورو اغيزو سربيره د انسانانو په اروح کې ستر بدلون راولي . په ټولنه کې دروڼ اندو انسانانو عقل، پوهه يااانتلجنس خړپړوي او د نورمال عام ولس روح هم متاثره او خړپړوي . زمور په هيواد کې د ځنيو روڼاندو اشخاصو ملي ضد، داسلاميت او ا فغانيت ضد اعمال يې يو ه ښه بيلګه ده .

۶ . په سوله کې زمور کړکيچونه

- دجګړې ځخه ورسته زمور ټولنه به له ډيرو سترو چلنچونواو ټولنيزو کړکيچونو سره مخامخ وي .
- دجګړې پای سره سم زمور په ټولنې کې مهم پراته ستر کړکيچونه به په لاندي ډول وي .
- د يتيمانو،کونډو،معلولينواومعيوبينو بې شميره لښکر پالنه، ورته د ژوندلومړنی اسانتياو برابر ول .
- د ميليونو کدوالو بيرته راستنيدل او د ټولنې په غيږی کې دوی ته خپل ځای ورکول .
- د اوو نه تر اته ميليونو د بې وزلو افغانانو مرستې چې د نيستی کربنی نه په لاندي کچه ژوند کوي بيرته جګول .
- د ميليونو بې وزګارو افغانانو لپاره اوزګار او کار موندل ، پر مختللي اداري سيستم رامنځته کول .
- د جګړو په بهير کې د لسو ميليونو ځخه ډيرو ايښودل شويو مينونو ا يستل .
- د لکونو افغانانو نسلي، نا علاجه عقلی او عصبي ناروغي او د نشه يې توکو روږدو تداوي او پالنه .
- د افغانستان ټولو وګړو ته په مساوی ډول د روغتيايي،ښوني روزني،د څښاک پاکې اوبه، خوراکې توکو برابر ولو ملي پروګرام ، ملي پيوستون او ولسواکی ته وده ورکول .
- د جګړو په بهير کې د يورانيموګوابن لرونکيو وسلو د استعمال په وجه زمور چاپيريال ککړتيا .

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

- دغیرقانوني وسلي او و سله والو ډلو درنګولو د پروګرام بشپړ تطبیق یا دایاک کیدل.
- د جنګي او دمخدره توکواقتصاد په نورمال ازاد اقتصاد بدلو .
- د دریو لسیزو جنګي مجرمینو او ټول وژنو، توکم وژنو عاملینو، متهمینو نړیواله محاکمه .
- د افغانستان چاپیریال ، د له منځه تللي ځنګلونو او سیندونو بیا رغونه چاري او داسی نور چاري .

۷ . پوځي ټولنه مدني ټولنه ته اړول

زمور پښتني ټولنه د نړۍ د زړو ټولنو څخه یوه ټولنه ده . مدني ټولنه یو سیاسي او فلسفي بحث دی . په یوه هیواد کي د ملت جوړوني د بهیر چتکتیا د مدني ټولني د جوړویدو په لور د پرمختګ نښه او د ټولنیز واو سیاسي ودي د پوخوالي څرګندونه ګڼل کیږی .
له بده مرغه اوس زمور په ټولنه کي د جګړي او کلاشیکوف کلتور خپورشوي دی . مور ځنګه کولي شو پوځي ټولنه یوې مدني ټولنه ته واړو . په بل عبارت مور ځنګه کولي شو پوځي ټولنه غیر پوځي او خپل سولیز ه،امنیزه ، انساني ، افغاني ملي ازښتونه بیا په پښو ودروو ؟ . د مدني ټولنې بنسټونه په دې باور دي چې د خلکو د مدني پوهاوي د کچې له لوړو لو پرته د دوی نه دا تمه نه شي کیدای چې د هیواد په سیاسي او ټولنیزه پروسو کي دې شعوري وندې واخلي . متمدنه ټولنه باید د ټولنیز عدالت ، مساوات او وروروليي پر بنسټ جوړه کړي شي .
د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنو د بنسټونو پرته ریښتوني ولسواکي نه شي رامنځته کیدی . چیر ته چې سیاسي ګوندونه او مدني ټولني وجود نه لري، دا په خپله د دې ښکارندونه کوي چې په هغې ټولنه کي ولسواکۍ وجود نه لري . خو له سیاسي ګوندونو سره د مدني ټولني د بنسټونو توپیر دا دی چې مدني ټولني هڅکله د سیاسي قدرت د ترلاسه کولو په فکر کي نه دي . په داسی حال کي چې سیاسي ګوندونه سیاسي قدرت ته د رسیدو هڅه کوي .
په همدې توګه د سیاستپوهني او ټولنپوهني علومو پوهان په دې باور دي چې د ځواکمني مدني ټولني موجودیت په یوه ټولنه کي د ولسواکۍ ودي د دوام او استقرار خورا مهم شرط دی . په ټولیزه توګه دا یو ډیر اوږد مزل دی چې بشري ټولني د ریښتیني مدني ټولني پړو ته وسیږي .
افغانان د خپل هیواد راتلونکي ته د شک په سترګه ګوري . زمور په ګران افغانستان کي ، زمور سپیره خلک او غم لړلی چاپیریال ، ناخوالو، ورانیو جګړو تغر په ټولنه کي پروت دی . خلک د یوې ریښتیني سولې امن او ثبات په تمه نوره په خپل پلارني هیواد، مورني ټاټوبي کي نا هیلي او د پردیتوب احساس کوي . ځکه جګړه ماري ډلي د جګړو له لاري د بري خیال په رواني رنځ اخته دي .
ټول په دې اوسني حالاتو کي پوهیږي چې د یوې سیاسي روغې جوړې څخه پرته د حل بله لار نشته .
د افغانستان ستونزه یوازي د بې ګناه افغانانو وژلو، د پوځي هوایي بمباریو، ځانمرګه بریدونو او وژولو په زور نه فیصله کیږي .
امپریالیستي سیاستونه او یرغلګر دولتونه نه غواړي سوله د ملګروملتو دمنشور په چوکاټ کي تر سره شي . دوی سوله د خپل پوځی واک په پرنسیب پر خلکو منې چې دا په خپله نورو جګړو ته لار پرانیزي. یرغلګر ځواکونه خپل ټول ستر، پرمختللي او نوي پوځي ځواک په جګړه کي استعماله وي . دوی په جګړه د دې لپاره لاس پوری کوي، تر څو چې سوله د دوی د شرایطو سره سم پلي شي . دافغانستان په دیرش کلنه جګړه کي هیڅ یوې ډلې د جګړې قانون نه دی مراعات کړي . په هره جګړه کي یو شمیر نورمونه شته چې باید مراعات شي . دلته نه د جګړې قواید شته نه د میرنیو ، ننګیالیو جګړه او یې معنا شته ، دلته په جګړه کي د مړو او ژوندیو عزت هم نشته .
په ټولو نړیوالو جنګي قوانینو کي د بې ګناه کسانو وژل جرم دی .امریکایي ځواکونه په افغانستان کي هیڅ یوه جنګي قانون ته غاړه نږدي. همدا وجهه ده چې وسله وال مقاومت ورځ په ورځ زور مومي .
په افغانستان کي روان تاوتریخوالی حکومت او نړیواله ټولنه د ستره ننګونه سره مخامخ کړي. که نړیواله ټولنه خپله جګړیزه ستراتیژي په سولیزه ستراتیژي بدله نه کړي . په افغانستان کي به د نړیوالي ټولنې اعتبار نوره هم کمزوری شي. په افغانستان کي مخ پر زیاتېدونکي نا امنۍ په ډاګه کړه چې د دغه هیواد کشاله یوازې د خبرو اترو له لارې حل کیږي. سوله او امن، د انساني نړۍ ستره اړتیا ده .
دا د زمور ټولنې په تاوان ده چې ګڼ شمیر کسان او ګڼ ګروپونه له ځانه وشړي، له ټولنیز او بنسټیزو حقوقو څخه محرومه کړي . دغسې ټولنه ځان ژوبلوي، ټوك ټوك کیږي، په ټولنیزه توګه د سیاسي لحاظ شړپړي او کلتوري، ټولنیزه امن او نظم یې له منځه ځي. د سرکښو، ناراضو، او مخالفو ډلو د شړلو په ځای پکار ده چې هغوی ته د ټولنې په غیږکي ځای ورکړ ل شي. دا کار به د ټولنې ټولنیز جوړښت او زیربنا به نوره ټینګه کړي .

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

سوله او امن د انساني ټولني او دافغان ولس ستره اړتيا ده. سياسي ډلې نه بايد دخپلوسياسي موخو دترلاسه کولوپه بيه سوله له لاسه ورکړي او يا د هيواد او هيوادوالو سولې ته ګواښ شي .
سوله ده چې يوه انسان ته په يوه انساني ټولنه کې دټولو ټولنيزو فعاليتونو او چانسونو لپاره لاره هواروي . دسولې په موجوديت کې هرڅوك کولای شي خپلې موخې او ملي ارمانو نو ته چې هغې ته درسيدوپه هيله مبارزه کوی ورسيږي .

وړاندیز.

دافغان په ټولنه کې بايد ټولنيز بدلون راشي د يوي نوي ټولنپوهني طرحه او پلان د ټولنپوهانو له خوا بايد جوړ شي . زمونږ لرغونی ملي تاريخ بايد په يو خاص ډول بيا راوښيي او ژوندی شي، ښه او بد په کې وڅيړل شي او توپير يې شي . دا زمونږ د انساني روزني يوه برخه او ښستيز حق ګڼل کيږي .
کله چې مونږ په ټولنه بحث کوو لومړي بايد ثابته شي چې کومه ټولنه اوهغه ټولنه د ننه ځخه پر کومو بنسټو ولاړه ده . لکه زمونږ پښتني ټولنه په نړی کې پر اسلاميت او افغانيت ولاړه ټولنه پيژندل شوي ده. ټولنه د انسانی ګد ژوند يو منل شوي اورګان دي . ټولنپوهنه ، د ټولنې ځيړنه او د هغی په اړ ځه ليکل او ټولنپوهنه د ټولنيزو چارو زده کړه ده . کله چې يوه ټولنه په کړکيچ کې اخته وي او کړه وړه، ټولنيز چارې له خپل مسير ځخه وتلې وي او را تلونکې يې خرګند او روښانه نه وي . سړي بايد نه يواځې ټولنيزه پوهونه ترسره بلکی په ټولنه کې منل شويو موجو مورالونه ، دودنه او اديالونه ټولنې ته بيا وړاندي کړل شي . ټولنپوهنيزه فکر بايد د ټولنې چوکاټ وڅيړي او ورسره انفرادي فکر په ټولنه کې را ويښ او په خوښت راولي . د ټولنپوهنې دنده ده چې په داسي يو وخت کې چې خلکو خپل ټول اعتبار او د ژوند مسير له لاسه وکړي دي، داسي پوښتنو ته لکه دټولنيزو څيړل شويو ستنددونه او منل شويو معيارونه لکه ريښتيا ، حقيقت،ټولنيز مورال ،د يوي انساني ټولنې لرليد، ملي يوالي نه شی په محض سر سري بې بنسټه او متضادو تکراري خبرواتر باندې غيرعلمي غبرګون وښودل شي . ځکه دا حالت ټولنه نور و نا باورپو او ګډويو ته ور تيل وهي . ټولنپوهنه يا سوسيولوجی بايد ځان زمونږ په ټولنه کی جوت کړي او خپله اصلي دنده پيل کړي. ټوپيرونه ويشلي ټوتی توتي ټولنه په نوښو زاړه او ښکلي ملي ارزښتونو باندې بيا سمبال کړي. تر څو چې په ټولنه کې د نور و کړکيچونو مخه ونيول شي . افغان ولس يوه تل پاتی سوله ، تولنيز عدالت او يو قانوني ځواکمند ملي دولت د سيمې په کچه غواړي . چې په کې د هيواد ټولو وګړو حقوقو ته مساوی پام وشي او متقابل درنښت د ولس يوالي لپاره په کې ترسره شي .
لوی خدای د زمونږ جګړه ځپلي، غمجنه ، له جګړو ځخه ستړي ستومانه، ورانه ټولنه د يوي ښې انساني، سالمې ، ځواکمني ، په ځان باوره ، خپلواکه، پر تولنيز عدالت ولاړه،ولسواکو ارزښتونو ته وفاداره، په پرمختګ ولاړه، له هر ډول تبعيض ځخه خلاصه او د متقابل درنښت ټولنه وګرځوي .

پای

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de